


Ketabton.com

حکمت تنکی ځوان وو.خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسونو ته یی ډیر پام کاوه د ژوند
دسختو شکنجو نه بی خبره وو.
دځوانی نشی داسی یو حالت ته
رسولی وو.
چی چا به فکر کړی وی چی
حکمت هم په دنیا دخدای یو بن
ادم دی.
پلار به یی دورځی په جلال اباد
ښار کی کراچی چلوله.
خو زوي یی په کلي کی په لوفر
مشهور وو.
ځکه چی د ده نه به هیچا هم
خیر نه لیده.
او هر چا چی به ورسره خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووهله.
بس ځانته به یی لانجه وکتله
پلار به یی چی دښار نه راغی
دزوی پښتنی ته یی هیڅ وخت نه
پاتی کیده دحکمت مورهم
دحکمت سره سخته پعذابوه.
خو پلار ته یی حال نشو ویلی
ځکه په ټول کور کی یی همدا یو
نازولی وو.
دحکمت مور زرغونه نومیده خلکو
به د زرغونی ترور په نوم پیژنده
زرغونی به هم دورځی دګاونډیانو
په کور کی کارکاوه.
دحکمت دوه ترونه وو چی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرداد نومیده او بل علی
شاه نومیده او دحکمت خپل پلار
فضل جان نومیده.
چې فضل جان یې تر ټولو کشری
وروړ وو .
علي شاه او زرداد چې به هر وخت
دحکمت مکتب ته تلل کتل او
دحکمت دپلار پیسې به یې کتلی
سخته غوصه به ورتله خو هیڅ [ ]
یې هم د وسه پوره نه و ځکه چې
دوی ته خدای زامن نه و ورکړي.
وخت تیریده حکمت خپلی زده
کړی وکړی خو د پلار په خوښه نه
ترونو په خوخه ولی چې دحکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترونو غوښتل چې حکمت داسی
یو انسان جوړنشی چې سبا زموږ
په کلی جومات کی یی خلک ډیر
درناوی او احترام وکړی بلکی ددی
برعکس خلک یی په غلط نوم [ ]
یاده وی او خلک دده په شتون [ ]
کی بیخی ناراضه وو ځکه چې [ ]
هیچا هم تری خیر نه ولیدلی [ ]
بغیر دشر نه [ ].
یو څه وخت وروسته دحکمت [ ]
پلار فضل کاکا یو دم دم ورک [ ]
شو [ ].
چا به ویل چې فضل کاکا خپلو [ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونو ورک کړی چابه ویل چی [ ]
دفضل کاکا دشمنی خو صرف د [ ]
کلی لوی ملک رامداد سره وه [ ]
ولی چی هغی یی په ځمکه [ ]
قبضه کړی وه. [ ]
بازو شیطانانو به بیا ویل چی [ ]
فضل کاکا پخپله ځان ورک [ ]
کړی تر څو دلوی ملک رامداد نه [ ]
بدل واخلی همدی لپاره خو یی [ ]
زوی هم لوفر رالوی کړ خلکو به [ ]
رنګارنګ قیصی کولی. [ ]
خو په اصلی خبره هیڅوک هم [ ]
نه پوهیدل چی اخردا کار چا [ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کړی دی [ ]
دفضل کاکا ورونه هم ډیر [ ]
حیران ول چی دا څه وشول [ ]
خو په داسی سخت وخت کی [ ]
هیچا هم حکمت ته لاس ورنکړ [ ]
حکمت یوازی تر کوره ووت [ ]
دمور نه یی دعا واخیسته. [ ]
او روان شو مخ پر سپین غر [ ]
دخپل کلی همزولو سره یی هم [ ]
خدای پامانی وکړه. [ ]
خپلو هغو ملګرو سره یی زړه [ ]
دخلاصه وژړل چی مکتب کی [ ]
ورسره پاتی شوی وو. [ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعا چی هغوی د حکمت په [ ]
تګ ډیر زیات سخت خفه وو د [ ]
حکمت داسی خاص زیات [ ]
ملګری هم نه وو خو ادریس او [ ]
مسیح په نوم یو دوه لیونیان [ ]
یی پیدا کړی وو دادریس او [ ]
مسیح تر سترګو اوښکی بهیدی [ ]
حکمت ورسره خدای پامانی [ ]
نامعلوم سفر په h وکړه او [ ]
لور رهی شو. [ ]

- مور ورته دکلي سر نه لاس
- خوځاوه او حکمت د کلی په

دښتو کی ورک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لارو کی دهر رقم حادثو سره [ ]
مخ شو داسی حادثو سره مخ شو چی
په ټول ژوند کی یی تر
اوسه نه وو لیدلی لکه کوچان او [ ]
اوښان او همداسی بدلی بدلی دشینوارو
ژبی او په شینوارو کی یی دیو کس
سره شخړه هم وکړه خو شینواری پری
ډیر وو او دا یی ووهلو.
دیو څه مزل څخه وروسته سپین غر
ته ورسید.
حکمتا چی سر ټیټ کړ او غوښتل یی
چی دسپین غر تر اخره ځایه یی نظر
ورسیږی.
نو دسر نه یی خولی وغورځیده هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی وچته کړه.
دسپین غر ښکلا ګانو یی کیفیت بدل
کړ لګ څه دارامی احساس یی وکړ
خو بیا د هغه پلار څهره ورپه یاد شوه
چی نه یی جنازه شوی ده نه ورته
څوک مړی وایی نه ژوندی حکمت
ډیر کشر وو بازی وخت کی اکثر
داسی وشی چی یوانسان دبد کار نیت
لري او خدای یی سم کړي د حکمت
ترونه هم همداسی ولی چی ژوند هر
اړخ لري په ژوند کی یوازی اوسیدل
نه دي چی خالی واوسیږو.

- او خالي دخپل ژوند نه خوند واخلو
بلکی باید یو څه غیرت هم ولرو که

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیرته دظالم دظلم جواب ورنکړو نو ظالم به بیا ډیر زړه ور شي.اوزموږ پشان ډیر نور مظلومان به هم تر تیغه تیرکړي.

دماښام شپږ بجی وی تیاره هم خپره شوه خو دسپین غر واورو خپله رڼایی کمه نکړه سپین غر داسی یولاره وه لکه ماهیپر داسی یو ځایی سړی نشي ورختلی .دشاوخوا نه به یی لکه دمارتاویږی تاسی فکر وکړی چی دجلال آباد ښار نه صفا سوچه ښایسته ښکاری .نو دابه څومره لوی غر وي حکمت مخ په پورته روان شو ان تر دی په اته بجی دغر نیمایی ته ورسید

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین غر ډیر لوړ غر دی ډیرو
مشرانو لیدلی دی.
که چیرته دورځی اته بجی یی په ختلو
پیل وکړی د ماسپښین پر دولسو بجو
به یی اخر ته ورسیږی.
حکمت هم همداسی په شپږوبجو روان
سو اوتر اتو دغر نیمایی ته ورسید
حکمت سخت ستړی شو دسپین غر په
واوری ډک میدان کی یی په تندی
خوله راغله یو خوانه دپلار غمونو
ژړاوه او دبلی خوانه یی خپل هغه
وخت ته ژړل چی ده په خه راحت په
خپل کورکی تیر کړی وو او پلار یی
ورته راوړی وه حکمت دغر په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی کیناست
خپی یی دښارپه طرف راکږی کړی په
ښارکی دګروپونو رنګانی داسی
ښکاره کیدلی لکه ماشوم چی په شګو
کی ځانته کور جوړ کړی وي او هغی
ته ګوري.
یخه تروږمه لګیده فکر کی یی هڅی
راغلل هغه وایی چی موږ به په کلي
کی دجلاآباد ښار
نوم څومره لوړ اوریدو رامدادکاکا یوه
ورځ ښار تللی وو.
کلیوالو ته یی دښار قیصی کولی موږ
به ورته داسی غوږ نیولی وو لکه
څوک چی یو دروغجن خوب وینی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر نه کاوه چی یوه ورځ به می دا
ښار داسی مخ ته پروت وي لکه
.دماشومانو دشګو نه جوړشوي کور
حکمت دخپلی بکسی څخه داوبو پټک
راوباسو دوه دری غړوپه یی ورنه
وکړل زیات خوند یی ورکړ په
یخ ځای کی د تړمو اوبو څښل نوبیا
بیل خوند لري حکمت په پټک خوله
ټینګه کړه ټولی یی په یوه څاه یی ټولی
.وڅښلی
شونډو باندی یی هم ژبه تیره کړه
اسمان هم ډیر روڼ وو حکمت تر
.اوسه داسی روڼ اسمان نه وو لیدلی
حکمت خپله دمه وکړه او تر هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته یی خپله بکسه شاته واچوله.
مخ پر لوړ روان سو پنځه شپږ قدمه به
یی نه وو اخیستی دشاخوانه پری چا
غږ وکړ چی ځوانه سپی درپسی و چی
لاره دی غلطه کړه حکمت چی شاته
وکتل ګوری یو ښکلی ځوان یی تر شا
ولاړ دی حکمت ورته وویل:هههه نه
یاره سپي راپسی ندی خودژوند سختی
راپسی دي او زه ورنه مخکی یم
ځوان کوچی وو.
د سپین غر نه لاندی یی دغره په لمن
کی کیږدی وی
کوچي دحکمت پر ولي یی لاس کیښود
ورته ویی ویل خدای خو لری خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

همت دلاسه مه ورکوه هیڅوک هم تر
تا طاقت ور نشته په جهان کی او بله
داژوندکه دومره اسان وایی نو پیل به
یی په ژړا نه کیده کوچي د حکمت
سره خدای په امانی وکړه.
کوچی حکمت ته دپاتی کیدو ټینګ
ست وکړ خوحکمت ورسره پاتی نشو.
حکمت ته دکوچي خبرو دوه برابره
همت ورکړ حکمت خپل تګ ته دوام
ورکړ دشپی په پاو کم لس بجی د سپین
غر لوړی څوکی ته چی سیکارام
نومیږی ورسید.
دشپی چوپتیا او تکی توری تیاری بل
ډول ماهول جوړ کړی وو حکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوبو په لټه کې شو تر څوخپل لمونځ
اداکړي.
دیو څه مزل څخه وروسته یې یوه
چینه پیداکړه چې د سخت کیف نه ډکه
شړشړه یې کوله داوبو شړا ر داسې
بریښیده لکه څوک چې دژمې په یخو
او اوږدو شپو کې غمګینې ټپې کوي
حکمت خپل نستوڼې رابډ وهل د اودس
لپاره یې چینې ته لاس تیټ کړ دلاس
دټیټولو سره یې دخولې نه بې دریغه
چغه ووته حکمت وویل :اوف خدایه دا
اوبه څومره یخې دی ماته خو یې
بیخې شاټ راکړ حکمت دواورې په
اوبو صرف داسې اودس وکړ لکه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې پرې غوړ کړی وي حکمت
خپله چپنه وویست دغره په سر کې یې
.اواره کړه په لمانځه ودریده
خپل نهه رکعته لمونځ یې بشپړ کړ دعا
یې له خدایه وغوښتله خوب ورته تالی
ورکولی خو په داسی یخ ځای کی هیڅا
هم خوب نشو کولای خالد مخ پر ځوړ
روان شو دپاکستان خاوری ته داخل
شو او دشپې په دولس بجې دغره څخه
کیوت مخ ته یې دپانه چنار سپیره
ډاګونه راغلل دحکمت هم نور زړه
. تنګ وو خو نه هم چیرته اس وو
چې سورلي پرې وکړی او نه هم
کچره یا اوښ و تر څو بلوچستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی ورسوی حکمت دپاکستان دخاوری
په لومړیو قدمونو کیچی پانه چنار یی
بلله له مجاهدینو سره مخ شو او
دیوځای کیدو غوښتنه یی ورڅخه
وکړه خو حکمت ته مجاهدینو وویل
چی دابه تر وزیرستانه ځی هغی ځای
نه به امر راوړی بیا به موږ ورته دلته
داوسیدو اجازت ورکوو نو حکمت
ځکه دوزیرستان لاره تعقیب کړه.
هر کله چی حکمت دپانه چنار دسپیرو
ډاګونو نه ووت نو یو بس ورته
مخامخ شو حکمت ورته داودریدو په
پار لاس وخوځاوه بس والا ودرید
حکمت بس والا ته وویل:غواړم تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیرستانه ولاړ شم دکوزی پښتونخوا
خلک ډیر غیرتی دشجاعت اود میړانی
نه ډک خلک دي حکمت یی
دبلوچستان تر هغه ځایه وروسوی کوم
ځای ته چی حکمت غوښتل په لاره
کی موټروان دخالد سره خه معرفي
شو او حکمت ورته دخپل ژوند ټولی
قیصی په ډکو سترګو تیریکړی.
ددواړو سره خه ساعت تیر سو دبس
موټروان هم دحکمت پشان ځوان وو
هغی هم خپله دژوند قیصه یی حکمت
ته وکړه دهغی هیڅ پلار ورور یا
ملګری یی نه وو او دملګرتیا لپاره
ورته دحکمت نه بل څوک خه پیدا نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت یی تر خپله ځایه ورسوی هلته
یی خلکو ته معرفی هم کړ او دپوره
باور یی ورته وویل حکمت دموټروان
ددی کار نه سخت خوشحاله شو
مجاهدینو حکمت ته پنځه ورځی وخت
ورکړ په دی پنځو ورځو کی خالد
دبس والا جمشید سره و .جمشید دخپل
بس سربیره یو هوټل هم درلود.او خپله
گوزاره به یی پکی کوله بس یی بل
چاته په کرایه ورکړی وو کله به یی
خپله چلاوه نور وخت به هوټل کی وو
حکمت هم ورسره هلته پاته شو دغه
پنځه ورځی حکمت خه په عیش
اونوش تیری کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی ورځ به نه وه چې سور کړی
چرګ به یې نه خوړ او هر ډول
انجونی به هم دجمشید هوټل ته راتللی
حکمت او جمشید ځوانان ول او خپلو
کې به یې یو بل ته اشاری کولی
حکمت که څه هم ددی شیانو شوقی نه
وو خو بیا یې هم د خپل ملګري دزړه
ساتلو لپاره داکار کاوه یوه ورځ یوه
جینی د جمشید هوټل ته راغله حکمت
چې یې سترګی وکتلی خوله یې وازه
پاتې شوه جنی دهوټل کورسی ته
ورتلله او حکمت دجنی پسی دواړه
غبرګی سترګی مړی نیولی وی او
دسترګو په حرکت د یو نوی څه کتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شان یی ورکتل دجمشید چی ورته
پام شو نو حکمت ته یی وویل گوره
حکمته بچیش دی جینی ته ډیر مه
گوره دی جینی پسی دلته لوړ رتبه لوړ
رتبه خلک راځي که هغوي وکتلی ستا
په سر به ماته جنجال جوړ شي حکمت
سترگی یو دم دجمشید خواته راواړولی
ورته یی وویل که داسی ده بیا ورته نه
گورم خو زه چی دکوره راوتی یم
ددی لپاره راوتی یم تر څو زما ښځه
یو زورور انسان جوړ شی او که
چیرته زه ریشتیا هم زورور شوم نو
دپلار دغچ نه وروسته به زما لومړی
کار ددی جینی خپلول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت دا پنځه ورځی وخت خه په خوشحالی تیرکړ دملګري موټر یی ډریور سره وو جمشید سره په هوټل کی رقم رقم موټرو والا وو نو یو کس سره یی دحکمت تر وزیرستانه رسولو خبره وکړه ورته یی دپیسو خبره وکړه خو موټروان ونه منله او ورته یی وویل چی راغلم ملګری راولم په ټولو به قیمتی لسي وښنی.

جمشید ورسره ومنله جمشید خپل ملګری ته ورتر غاړی ووت په ورینه ټنده یی ورته وویل :یاره ته چی راغلی وی په ژوند کی می تر اوسه هیڅ کمی محسوس نکړ تا خو ماته دخپلوانو مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دا ځو ورځو کی راکړه خو وس چی
ځی سخت خفه یم.
حکمت وویل :ستا څخه تړی مننه
ورورہ که تقدیر موقع راکړه بیابه
ضرور وګورو ستا په هوټل کی به بیا
کای وڅښو او خوند به واخلو وس نو
زه ځم په مخه دی خه .حکمت
موټروان سره کښیناست موټروان
روان شو وزیرستان لاره هم خوندور
ځای دی غرونه او ځنګلونه خو یی بیا
بیل خوند کوی پدی لیاره کی حکمت له
دی موټروان سره هم اشنا شو ګپ شپ
یی ولګو موټروان حکمت تر
وزیرستانه ورسوی حکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجهاهدینو په لور دغرور نه په ډک
مخ ورروان شو .دحکمت موخه دانه
وه چی جهاد وکړی بلکی حکمت
غوښتل تر څو دخپل پلار غچ دملک
رامداد څخه په زور واخلی
لکه سنګه چی یی پلار ورته ورک
کړی همداسی به دا ملک رامداد
وکړی حکمت ته یی په وزیرستان کی
پوره دری ورځی وخت ورکړ تر څو
همدلته دلومړنیو ورځو تمرین وکړی
بیا به یی بانه چنار ته ولیګی حکمت
همداسی وکړل همدلته یی دری ورځی
تیری کړی دلومړنیو ورځو سخت او
قوي تمرینات یی ترسره کړل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنیو ورځو کی خو بیخی له ځایه
وچتیدای نشو ولی چی تمرین ډیر
سخت وو خو په دوهمه ورځ بیا
ورسره خه شو په دریمه ورځ لا خه
بیایی خپلو موټرو کی تر بانه چنار
ورساوه حکمت په بانه چنار کی پوره
دری شپږ میاشتی دتمرین په موخه
تیری کړی سخت سخت تمرینات یی
وکړل لکه دبدن قوی والی دنښی
ویشتل او جمناستیک او دبوکس او
کراټه او تکواندو یی هم وکړل ځکه که
څوک غواړی عسکر شی نو ددی ټولو
تمرینونو زیاتی برخی باید چی ورته
یادی وی ټول مجهدین دحکمت ډیر خه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګری شوی وو حکمت چی په بدن کی هم لګ څه غټ وو او زور هم خدای ډیر ورکړی وو.
ګیره یی هم پریخی وه لونګی به یی هم وهلی وه نو دا دټولو مشر معلومه ددی ځای مشرانو حکمت دټولو مشر وټاکلو حکمت مشرپه سنګر کی دجنګ وو نور تمرینات به ورته په بانه چنار کی نورو کسانو ورکول حکمت دټولو عسکرو سره وپیژندل هر یوه نه یی دهغه دژوند په باب پښتنی وکړی.
یوه ورځ دشپی دولس بجی وی حکمت او ملګری یی ناست وو ټول ګیر چاپیره ناست ول منځ کی یی نغري کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور لګولی وو داور په هیبت ناک اواز
کی هر یو به بیل بیل دخپل ژوند
قیصی کولی ټولو خپلی ترخی شیبی او
قیصی تیری کړی دوی به هره ورځ
همداسی خپلو کی قیصی کولی او هره
ورځ به همدا یو ببو لالله وه خو نن
ټولو دحکمت نه دهغه دژوند په باره
کی پښتنه وکړه او ورته ویی ویل چی
مشره دلته خو چی څوک راځی یو څه
مشکل نه یو څه مشکل ضرور لری ته
ولی راغلی حکمت ورته خپله ددرد نه
ډکه کیسه تیره کړه دی وخت کی
یعقوب دبانه چنار دقرارګاه ساتونکي
دحکمت قیصه واوریده یعقوب حکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وویل وروره ته یوی خواته راشه
تاسره زما لګ څه کار دی حکمت
ورغی هغه یی یوی تیاری خونی ته
بوتلو حکمت ته یی وویل تا چی کومه
قیصه هلته بهر خپلو ملګرو ته تیره
کړه ایا ریشتیا هم ستا پلار همداسی و
چی ورک شوی وو وچ کلک او سپین
ږیری او اته میاشتی مخکی غیب
شوی او ساده سړی وو حکمت وویل
هو همداسی قد قامت کی پلار می وو
حکمت په تعجب کی وپوښتل چی ولی
آیا تاسره زما دپلار په باره کی
معلومات شته هغه وویل:حکمت بی
سیده شو سیده یی دیقوب غاړی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ورواچوه یو څو سوکه یی کلک
کلک په خوله ووهه ورته یی وویل
چی ووایه زما پلار دی چیرته کتلی زه
که دکوره راوتی یم او خپل سر نه تیر
شوی یم نو ستا نه هم تیریږم یعقوب
وویل:ګوره حکمته دا قیصه که زه تاته
کوم ته باید پر ما باور ولری داسی نه
کیږی.
حکمت دیعقوب ګریوان پریخود سر ته
یی لاسونه ونیول یوه سخته دردوونکی
کریغه یی تر خولی ووته ویی ویل زه
څه وکم چیرته لاړ شم څوک مړ کم چا
باندی ځان مړ کړم ای خدایه دازه دی
کوم امتحان کی اچولی یم حکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعقوب بیا تر غاړی ونیو ورته ویی
ویل ته به وس ما تر خپل پلاره
رسوی شابه ووایه داځل چی حکمت
سوک ورکاوه یعقوب یی لاس ونیو
ورته یی ویل ګوره حکمته زه که ستا
په خلاف وای بیا درته ما داهم نه ویل
چی ستا پلار ما کتلی خو زه ځکه درته
وایم چی زه غواړم تاسره مرسته وکړم
پریده چی په ارامی خبری وکړو چی
یوځای ته خو ورسیږو کنا حکمت
ورته وویل سمه ده حکمت یی په
چوکی کیناوه دحکمت سر ځړیدلی مخ
ته یی یعقوب ناست وو یعقوب ورته
وویل:دنن نه پوره اته میاشتی مخکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو زوروروکسانو یو سپین ږیری
سړی په دی لاره مخکی کړی وو وچ
کلک وو په تندی کی یی ستا دعلامی
سره سم یو تور داغ وو او په دی لاره
یی په زوره تیرولو ما غوښتل مخه یی
ونیسم خو مشر ظریف راته وویل چی
دمشرانو امر دی دوی سره به کار
نلری زما په هغه سپین ږیری بابا
سخت زړه خوږ شو دهغی دبچیانو په
اړه می فکر وکړل خو خه ده چی ته
می وکتلی یعقوب ورته وویل:وروره
وس که هر څنګه کیږی ستا دپلار په
پیداکولو کی به درسره زه ضرور
کومک کوم دا وخت هم حکمت د سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

غر په لمنه کی ولاړ وو دسهار څلور
بجی شوی حکمت دسهار اودس وکړ
خپل ټوپک یی دجای نماز څنګ ته
کینښود خپل لمونځ یی ادا کړ دملګری
سره یی یاسین شریف وو هغه یی هم
تلاوت کړ دسپین غر واورو بیخی
خراب کړی وو دشپړو میاشتو تمرین
نه وروسته رخصت شو دی پوهیده
چی که نور دلته راشم نو افغانستان ته
به می ولیګی او که افغانستان ته لاړ
شم مور او کلی والا صنفیان ټول به
وګورم یو څه راحت به نور هم حس
کړم او مور ته به هم ددی زیری
ورکړم چی مامی دپلار لومړی لینک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړ.
دی دځان په تیارولو کی وو چی
یعقوب ورغږ کړل ورته یی وویل که
پلار دی پیداکول غواړی نو اول لاړ
شه کلی ته هلته دی دپلار تولی
دورکیدو نښی پیداکړه چی کله ورک
شوی کله یی تاسو سره تماس نیولی او
غیب شوی.حکمت دیعقوب نه مننه
وکړه یعقوب ورته سینه ووهله نن
قرار ګاه ته ډیر لوړ رتبه کسان راغلی
وو یعقوب ته یی ورغږ کړل یعقوب
حکمت ته وویل چی ته ودریږه زما
درسره کار دی بیرته راځم سمه ده
حکمت یعقوب ته نیم ساعت ودریدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی وخت کی دیعقوب سره یوی غټی
لونګی والا نفر د قرار ګاه نه راکیوتو
یعقوب لونګی والا نفر حکمت ته
معرفی کړ او ورته ویی ویل دا مفتی
صاحب فیروز الدین دی غواړی تر
مزینی ولاړ شي هلته یی څه میلمانه
دي هغوی ګوري بیرته راځی دسپین
غر نه هاخوا ورته موټر ولاړ دی خو
مفتی صاحب ته پټی لیاری ندی
معلومی ته تیار ځی مفتی صاحب به په
پټو پټو لارو تر مزینی وررسوی
یعقوب حکمت ته وویل ته راشه تاسره
لګ څه پټ کار نلرم حکمت چی
ورغی یو کاغذ یی ورکړ او ورته ویی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل مفتی صاحب چی کوم کور ته
ننوت دمهربانی له مخی دا کاغذ
دهغی کور کوم ماشوم ته ورکړه تر
څو زما مینی ته یی وروړسوی حکمت
ته دشرم خندا وکړه یعقوب یی په اوږه
وواهه ورته ویی ویل وروره ته بیغمه
شه ضرور به تر هماغه ځایه رسیږی
کوم ځای ته چی ته غواړی خو ها زه
یی لوستلی شم کنا طعقوب وویل ولی
نه یاره ته خو می ځان یی حکمت
وویل نا ټوکی کوم زه دهیچا شخصی
ژوند کی کار نلرم یعقوب وویل مشکل
نشته هر څنګه چی دی خوخه وي
یحکمت ورسره ومنله حکمت دفیروز

(c) ketabton.com: The Digital Library

الدین سره دسپین غر په ختلو پیل وکړ
مازیګر څلور بجې وی چې روان شو
ټولو مجاهدینو حکمت ته لاسونه
خوځول دحکمت هم په سترګو کی
اوښکی راغلی حکمت روان وو
لاندی ملګرو یی ورته کتل دسپین غر
په لارو لکه دمار تاویده پوره دڅلور
ساعته مزل څخه وروسته یی اخیری
سر ته ورسید فکس اته بجې وی
فیروزالدین ته حکمت وویل مفتی
صاحب رازی دلته به لمونځ وکړو
دحکمت څخه دماښام لمونځ قضا شوی
وو هغه یی هم راوګرځاوه هر کله
بیرته دکیوتو په حال کی شو هاغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچی چی په اوله ورځ یی کتلی وو
همغی سره بیا مخ شو ورته وویی
څنګه شو وروره ایا پلار دی پیداکړ
کنه
حکمت ورته وویل:وروره دپلار
قیصه می ډیره اوږده ده که می درته
وکړه وبه ژاړی ورته او په مفتی
صاحب هم ناوخته دی مفتی صاحب
ورته وویل چی لا وختی دی راځی
لږه دمه به هم وکړو او دحکمت دژوند
قیصه به هم واورو کوچی حکمت او
مفتی صاحب کیناستل داچی دغر
اخري ځای وو نو دکوچي کور هم
نږدی وو کوچي دخپل کور څخه چای

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګوډه راوړل مفتی صاحب او
حکمت ته یی پیاله ډکه کړه حکمت
دپیالی سخه یو خوندور غړوپ وکړ
شونډی یی په ژبه پاکی کړی بیا یی
خپله قیصه شروع کړه او تر دی دمه
یی ټول داستان ورته تیر کړ کوچي
وویل ګوره ورروره ست
په قیصه خو خوندور ناول جوړیږی
داخو ډیره دردوونکی قیصه ده
حکمت دهو په نیت سر وخوځاوه
نور نو په مفتی صاحب هم ناوخته کیده
دواړه تر غره راکیوتل لاندی ورته یو
سراچه موټر ولاړ وو موټر ډیر صفا
وو خو خالی سراچه وه ځکه چی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ځایه خه موټری نشوی راتلی بغیر
دسراچی نه دوی موټر کی کښیناستل
روان شول مخ په کلي مفتی صاب
حکمت ته مخ واړاوه چی حکمته بچیه
زه ستا دژوند داستان سخت ودردولم
نو ځکه وایم چی هر څه مشکل وو
ماته وایه زه پوره پوره همکاری
درسره کووم موټروان موټر ډیر تیز
چلاوه او حکمت به دکلیو پټی پټی
کوسی ورښودلی حکمت دکلی پټی
کوسی هغه وخت کتلی وی کله چی به
یی په کلي کی پټ پټونی کاوه نو دی
ځایونو ته به راتلو تر مزینی ورسیدل
مفتی صاحب کیوتی او حکمت ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

روپی په جیب کی کیښودی1000
حکمت ډیر ټینګار وکړ خو مفتی
صاب بیا پیسی وانه خیستی حکمت
غوښتل وس کوم ماشوم ته دیعقوب
لیکل شوی خط ورکړی خو څوک نه
پیدا کیده حکمت ویل که چیرته په دی
وخت کی ماشوم په زر
روپی هم وایی ما به اخیستی وای خو
دخدای کار ګوره یو ماشوم دهمدی
کور نه راووتلو حکمت ورته وویل
بچیه پلار دی کور کی شته هغی وویل
چی پلار می همدا وو کنه تاسره چی
راغلو حکمت پوه شو چی ها څنګه دی
یعقوب مفتی صاحب ته داسی پالشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله ماشوم ته یې وویل:ایا ته یعقوب
پیژنې هغې وویل هو هغه هر وخت
موږ کره راځي ماته یو خت راکوي
چې هغه تر پلوشې ورسوم حکمت
ورته وویل :داخط هم واخله او تر
پلوشې یې ورسوه او ورته ووایه چې
یعقوب رالیګلی دی ماشوم خط
واخیست ویې ویل ما مکتب کې نوی
نوی املا زده کړې صبر چې زه یې
ولولم چې تکړه یم کنه حکمت ورته
ډیر وویل چې نا ته یې مه لوله خو
هغې ولوست لیکلي یې وو چې .ی
سلام پلوشې دا چې زه به وس سنګر ته
ځم خوشحاله یم چې دخپل وطن لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هر څه تیر یم او زه پر دی پوهیږم
چی ته به هم زما پر دی کار خفه نه یی
انشالله چی وطن آزاد شو ډیر ژر به
درشم پلار نه به دی وغواړم او واده
به وکړو او دخوشحالی ژوند به ولرو
مننه ستا له مینی څخه.
یعقوب شینواری
حکمت چی داخبری ولوستی دخپل
ملګری په پاک نیت یی زړه وسوځید.
ماشوم ته یی خط ورکړ حکمت روان
شو خپل کلی تا تر څو خپله زړه مور
وګوری خپل ترونه وګوری او خپل
دوه لیونیان ملګري مسیح او ادریس
وګوری حکمت دیو څه مزل کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته و خپل کلي ته ورسيد دحکمت
دوی کلی په چنار پيژندل کيده هر کله
چی يی دلری سر نه چنار وکوت خپل
دماشوم توب يادونه ور په زړه شول
دمکتب نه پټيدل دپلار و هل دپلار هغه
سختی ورپه ياده شوه چی په سخته
ګرمی کی به ناست وو او ځانته به يی
کوټه جوړوله حکمت خپل کلی ته
ننوت دماشومتوب هر يو ياد به يی
ذهن ته راتلو حتی تر دی چی دلری
سر نه يی دخپل کور مخکی خپله
بوډی مور وکتله خالد ورمنډه کوه
دخپلی مور لاسونه او خپيموچی کړل
دزرغونی دسترګو ديد هم له منځه تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو یوخوانه یی خاوند ورک شوی وو
بلی خوانه یی
زوی هم دورک شوی په توګه له کوره
تللی وو دورځی دولظ بجی وی ټکنده
غرمه وه حکمت مور ته وویل مور زه
یم حکمت ولی ستا سترګی لکه چی
کمزوری شوی دحکمت مور حکمت
ته ورتر غاړی وته حکمت یی موچی
کړ په اوښلنو سترګو یی ویل بچیه زما
سترګی دومره کمزوری ندي ته مظ
مخ ته کینه چی لږ څه خو دی ووینم
حکمت وویل موری وس خو راغلم
خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزیری لپاره انشاالله بل ځل به می پلار
هم راولم موری وس ټولی خبری
راباندی همدلته کوی که دننه هم ننوزو
حکمت دننه ننوتلو د زرداد میرمنی یو
څه خوندور خواړه پاخه کړل حکمت
او مور او کاکاګان یی سره کښیناستل
په ګډه یی ډوډی وخوړه کاکاګانو یی
پوښتنه ورنه وکړه چی وراره څنګه
شو دپلار معلومات دی وشول کنه
حکمت وویل ولا کاکا انشالله وس خو
یو لینک ته ورسیدم کاکا ګانو یی
حکمت پوری وخندل ورتل یی وویل
ته چی دا شپږ اووه میاشتی تیری کړی
صرف دلینک دپاره نور دی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړل.
حکمت ورته وویل یاره کاکا سخت
ځوکی یی ما شپږ اووه میاشتی دزور
دپیداکولو لپاره تیری کړی او شکر دی
وس زور لرم او په دی پو هیږم چی
ډیر ژر به خپل پلار ته ورسیږم
انشاالله حکمت ډوډی وخوړه کلی کی
یی هم چکر ووهلو خو کلی ورته سم
عذاب جوړ شوی وو ولی چی ځان
ورته خه نه ښکاریدو چی پلار دی یی
ورک وی او دی په کلی کی چکری
وهی دحکمت دمړ.ر زرغونی سترګی
هم ورو ورو خه کیدی ولی چی زوی
یی واغلو تر اوسه پوری خو یی هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک هم په کلي کی نه وو بیخی ځانته
وه او تل با غمونو په سمندر کی ډوبه
وه حکمت دخپلی مور لپاره چی
خوشحاله شي پوره لس ورځی کلی کی
تیری کړی خو یوه ورځ ورته دیو
کال نه کمه نه وه په اخری دری
ورځو کی ورته خپل لیونیان ملګری
ور په یاد شول ډیر ورپسی وګرځید
کورنی یی هم کلی کی نه وی دډیرو
پښتنو وروسته چا ورته وویل چی
هغوی دوه کورنی ښار ته تللی او
حکومت بللی ولی چی مسیح او ادریس
دښار په پوهنتون کی په چا سر مات
کړی وو نو ځکه ښار ته یی تولله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنی غوښتی او دیوی میاشتی دقید
حکم یی په ټوله کورنی ختلی وو خو
ملک رامداد یی ضمانت کړی وو او
سبا به راخلاص شي هغه دخپلو
ملګرو لپاره یوه ورځ بله هم حصار
شو تر دی ملګری یی راورسیدل دی
ورسره لیده کاته وکړل حکمت ور
څخه روان شو په یوو لسمه ورځ یی
مور ژړل او حکمت دډاډګیرنی په
حال کی ترینه ولاړ دسپین غر په لوړو
سرونو یو ځل بیا تیر شو او د یعقوب
په مرسته په قرار په پټه تیر شو ځکه
که چا کتلی وای بیا یی نه پریښود او
سیده یی سنګر ته لیګلو یعقوب ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهر رقم مسؤلیت سینه پووهله او ورته
ویی ویل که نفر دی پکار ول ماته
ووایه ستا دټیم ټول ملګری به درته په
عادی جامه کی درولیږم انشالله ټول
درسره مرسته کوي حکمت مننه
ورڅخه وکړله او ورته ویی ویل زما
به دی ملګرو ته ضرور اړتیا پیښیږی
باید چی ټول ضرور راشی بیا حکمت
خدای پاماني واخیسته او دقرار
دموبایل نه یی دجمشید پی سی او ته
زنګ ووهلو جمشید ورته وویل چی
زما بس ماسره دی او دادی درغلم په
لاره کی به دی ګیر کم بیا به راشو
هوټل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت ورسره ومنله حکمت یو څه
مزل وکړ د دړادړ په سیمه کی جمشید
حکمت ولیدو حکمت ورسرا کیناست
جمشید ټینګه غاړه ورکړه او ویی
ویل:یاره حکمته ته چی تللی یی بیخی
داسی څوک نلرم چی خبری ورسره
وکړم تاته خو پته ده چی هر رقم انسان
سره زما نه لګی او زما هوټل ته خو
ټول شرابیان او غلطو کارو والا خلک
رازی تر څو خپل ځانته یو څه
خوشحالی ورکی او هغه انجونی چی
هوټل ته راځی هغه ټولی خو داسی دی
لکه خرڅیدونکی غواګانی هریو مالک
خپله ګټه ورنه واخلی نوری خرڅی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی کړی په همدی خبرو کی حکمت د
جمشید تر هوټله ورسید دجمشید هوټل
بیسټ ویسټران نومیده مشهور هوټل
وو پاکستان کی هر رقم ازادی پکی
وه مشر یی خپله جمشید وو حکمت
پاکستان کی بیا په عیش ونوش شروع
وکړه پوره دوی میاشتی یی تیری
کړی جمشید به ورته نصیحتونه کول
خو حکمت نه منله په نشو واوړیدو
هیڅ ډول نشه ورنه پاتی نشوه جمشید
به ورته ویل چی حکمته دخدای رویی
ومنه داشیان خه ندی که خه وای ما به
کول خو حکمت به لیونی شو او ویل به
یی چی دی نشی خو زه دټولو غمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لري کړم ته راته وايي دا پرېږده
حکمت په دوه مياشتو کې خه پوره
عملي شو جمشيد ته به يې ويل چې که
ژوند مې خه شو تاسره مې وعده ده دا
هر څه بيا پرېږدم جمشيد به ورته ويل
چې زه وروره داسي ډيرو خلکو ويلي
خو چې يو ځل پرې څوک راغلي بيا
. يې ندی پريخی
ديو څو ورځو وروسته سپنا هوټل ته
راغله حکمت شي وکتله زرزر يې
خپل مخ ووينځو ادي نشي لري کيدو
ګولي يې وخوړلي دحکمت نشه لري
شوه خو سر يې بيا هم درد کاوه سپنا
هغه جبني چې اول واژ حکمت ليدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او جمشید ته یې ویلې وو که خدای
زور راکړ دا جینی به ضرور خپلوم
سپنا ښکلې انجلې وه حکمت پرې مین
وو دحکمت نه درې چوکې وړاندې
ځانته ناسته وه حکمت چې وروکتل په
غرور یې دحکمت نه مخ واړاوه
حکمت خپله خوشبختې حس کړه سپنا
تر هوټله په ګړندیو قدمونو ووتله
داسې ښکاریدل لکه چاچې ورته غږ
کړې وې حکمت بیا دجمشید خواته
سترګې واړولې جمشید ورته اشاره
وکړه چې ورشه کړکې خواته او لګه
تازه هوا واخله خپه کیږه مه حکمت
همداسې وکړل دکړکې پرده چې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لری کړه خوندوره تازه هوا یی حس
کړه دغرور نه په ډکو او خوخوونکو
سترګو یی لاندی وکتل ګوري چی سپنا
دری کسانو رانیولی او په زور یی
موټر ته خیجوی دحکمت سترګی
کړیغی راوپړسیدی جمشید ته یی غږ
وکړ چی کار ټول نوکرانو ته وسپاره
ته په منډه رازه ما پسی دواړه ډیر په
بیړه لاندی کیوتل دجمشید موټر ولاړ
وو حکمت وروختو جمشید ګاډی روان
کړ پوښتنه یی له حکمته وکړه خو
حکمت ورته ویل چی دی موټر پسی
ګړندی درزه موټر په تنګو تنګو کوسو
کی تر ښاره ووت حکمت دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسی وو حکمت سره دا مهال هم
توپانچه وه ځکه چی قرار ګاه کی یی
ورکړی وه موټر ډیر ګړندی روان وو
هر رقم ډریور نشو رانیوی خو حکمت
دوی ځان پسی وروړساوه دهغوی
موټر یوی دښتی ته ننوت حکمت دوی
ورپسی دچپی خوانه راتاو شول او
دغلو دموټر مخی ته ودرید حکمت تر
موټره کیوت نستونی یی رابډ وهلی وو
توری چشمی یی په سترګو وی
دغرور نه په ډکه لهجه یی ټولو ته
وویل چی ماته تسلیم شی
ګنی ماته مو ډیر ښه چل راځی حکمت
هغوی ټولو کسانو ورپوری وخندل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوو ملګرو ته یې وویل چې په ټوپک
یې کار ورختم کړي حکمت تر هغې
مخکې هغوی دواړه وویشتل ټولو
حکمت ته ماشې برابرې کړې خو دا
وخت دحکمت ملګری راغلل او خالې
درې کسه ژوندي پاتې شول نور ټول
یې ووژل.
هغه درې کسه نو حکمت ته خدای په
لاس ورکړل حکمت په جمشید ته له
ویلو مخکې قرار ګاه ته زنګ وهلی
وو او ټول ملګري یې راغوښتي وو
دحکمت دوې موټر ملګرو یې تعقیب
کړې وو او په اخر کې یې حکمت سره
پوره پوره همکاري وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحکمت ملګرو هغه دری کسان سخت
ووهل حتی تر دی چی له وینو یی
څپلی ډکی شوی هغوی ورته ددوی
دمشرانو په باره کی وویل حکمت
پوهیده چی کولای شی همدی لینک نه
خپل پلار ته هم ورسیږی نو دی
کسانو چی کوم ځای وروخود دخپلو
ملګرو سره هلته هم ولاړ چی دجمیل
چوک سره وو حکمت خپل مخ نه ټوټه
ټاوه کړه جمشید یی خپل هوټل ته ولیږه
ورته ویی ویل که څوک هغه هوټل ته
په هغه انجلی یا بلی پسی راغلل او په
زور یی بوتله نو ماته بیا خبر راولیګه
جمشید ولاړ حکمت ددی هوټل دمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه غوښتنه وکړه تر څو څلور کوټې
ورکړی خو دا هوټل پوره ډک وو
حکمت ددی هوټل په سنګ کی یو
عادی هوټل کی خونی ونیولی پوره
څلور خوني یی ونیولی ټول ملګری
یی پکی ځای کړل داوخت جمشید
حکمت پسی خبر راولیګو چی ډیر
کسان راغلی وو او جمشید ته یی
ډیری توندی خبری کړی او دا یی هم
ورته ویلی چی هغه کسان په یوی
جینی پسی رالیګلی وو هغه جینی ښځه
شوه اوزما کسان څه شو او یلی که په
دری ساعتونو کی دی زما نفر راپیدا
نکړل والا هی چی داټوله میخانه درته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دابل مخ راواړوم حکمت لا
خوشحاله شو ځکه پوهیده چی داسی
لینکونه یی تر پلاره رسولای شي.
جمشید چی سخت وویرید او ددی غم
ورسره وو چی هڅی نه په ریشتیا راته
ساقي خانه ورانه نکړي نو لکه دلیونو
پشان یی هاخوا او دی خوا منډی
وهلی دری ساعته پوره شو هغه خلک
راغلل ټولو دخپلو کلاشنکوفونو لټونه
کش کړل تر څو ورته میخانه په بل مخ
راواړوی داځل نو چی څنګه یی برید
کاوه دهر کس په سر توفنګچه کیښودل
شوه ټولو نه اصلحی ټولی شوی او
ټول یی په موټر کی تر خپل ټاکل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه پورې راورسول هلته یې ددوی
څخه هم پلټنې شروع کړې داکسان
هماغه هوټل والا وو کوم چې مخکې
کس ورته خودلی وو خو حکمت دوی
ته خدای آسانه په لاس ورکړل.
حکمت جمشید خپلی قرار ګاه ته
راوغوښت پوښتنه یې ورنه وکړه چې
ولې دې په هوټل اټیک ونشو جمشید
ورته وویل چې یاره نه یم خبر حکمت
چې هر وخت ورته موسی د بدیو مشر
راوغوښت نو جمشید ته یې وویل تا
چې ویل دې جینې پسې ډیر زورور
خلک ګرځي ایا تاته دا موسی ګی
زورور انسان معلومیده جمشید چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی وکوت سترګی یی کږیږی
راووتی
موسی هم د جمشید په لیدو یو اوږد
اسویلی وکړ جمشید حکمت ته وویل
چی ما او تا یوازی خبری کوای شو
حکمت وویل هو ولی نه رازه دواړه
بیرون ووتل جمشید حکمت ته
وویل:کوم چاته چی ته موسی ګی وایی
دا موسی ګی ندی بلکی دا خان موسی
خان دی
ددی پر سر دپاکستان حکومت غټ
انعام ایښی دی حکمت ورنه وپوښتل
ولی .
جمشید وویل دلته پاکستان کی چی هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک وغواړي څوک قتل کړي او
څوک مړ کړي نو دیته وایی.
حکمت سمدلاسه دجمشید غاړی ته
لاس واچوه چی دا خبره تا ماته مخکی
ولی نه کوله .
جمشید وویل چی مخکی او وروسته
څه معنا خو اوس می درته وکړه کنه
حکمت ورته وویل ته نه پوهیږی چی
زه صرف همداسی خلکو پسی ګرځم
چی بد کاران وی قاتلین وی حکمت
منډه کړه د موسی پسی موسی اخر
ورته وویل چی داسی ډیر کسان می
مخی ته زی رازی نه یی پیژنم
دموسی نه یی دپټن ځای پښتنه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوخت یعقوب دی ځای ته راغی د
حکمت دپلار عکس یی په لاس کی وو
هر کله چی جمشید د حکمت دپلار
عکس ولید سترګی یی راووتی او یو
دم یی منډه کړه او په دروازه ووتو
حکمت ورته پام وو خو هیڅ غبرګون
یی هم ونښود حکمت موسی ته د فضل
کاکا چی پلار یی وو عکس وخود.
موسی راسا وویل داکس خو ماته
همدغی هوټل والا په لاس راکړی وو
حکمت یودم فکر کی شو خو بیا یی
فکر وکړ چی امکان لري موسی
دروغ وایی خو موسی ورته قسم وکړ
ورته یی وویل چی ماته همدی جمشید

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسی هم راکړی او دا سپین ګیری بابا
یی هم راوست زه واقعا ستا په پلار
سخت خفه شوم ځکه چی سپین ږیری
وو
خو ها زه خپل کارو بار کووم ماته
دهیچا پروا هم نه رازي وس ته جمشید
راوله لس کاله یی هم درته ساتم
حکمت یعقوب ته غوږ کی وویل:چی
موسی دی نشه کړی یعقوب موسی ته
پیچکاری وکړه حکمت ووتلو جمشید
پسی اول خو ځای معلوم سیده لاړه
ورپسی هوټل ته یعقوب ورته وویل
چی حکمته رازه چی نن خو یی ددی
هوټل نه خلاص کو چی بیا چاسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی کوی نه حکمت وویل نه جمشید
زما ډیر کلک ملګری دی خو اول باید
چی دا

چی دا معلوم کو چی قیصه څه ده
حکمت په هوټل ورننوت سره داصلحو
ټول سیلانیان وویریدل ټول غاړی ته
ووتل حکمت په یو بیل ډول غرور په
هوټل کی روان وو ټولو خلکو ورته
کتل ټول هغه کسان چی مخکی راغلی
و او حکمت یی کتلی وو نو ډیر حیران
شول چی دا ډول عاجز انسان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره قوت حکمت دهوټل دفتر ته
ورغی دهوټل مشر یی راوباسلو
دجمشید پوښتنه یی ورنه وکړه هغی
ورته وویل چی هغه خو ستا تر ټولو
تکړه ملګری وو نو ستا نه بغیر به ولی
چاته معلوم وي .
حکمت پوه شو چی هوټل کی نشته خو
بیایی هم هوټل لټ په لټ واړوه
حکمت دهوټل نه راووت فکر کی شو
چی څه وکي یو ځل بیا لاړو موسی
پسی موسی ته یی وویل چی زما پلار
چیرته بندی دی هغه ځای یی
وراوخوده خو حکمت ته یی وویل چی
ته به یوازی ورځی زه خپله امضا

(c) ketabton.com: The Digital Library

درکووم تاته به په هماغی امضا خپل
پلار درکړی حکمت ورته وویل چی
زه ستا امضا ته اړتیا نلرم خو موسی
ورته وویل چی ته دهغی ځای عسکرو
سره نشی جنګیدای حکمت موسی تر
مری ونیو ورته یی وویل چی پټه لار
راوخایه تر څو دجمشید نه ژر پلار ته
ورسیږم موسی ورته وویل په رضا یی
درخایم خو زما قرارګاه به نه
راورانوی ژمنه وکړی حکمت ورسره
ومنله حکمت په فورنر کی کیناست
پین شپ یی واچوه توری چشمی یی
هم واچول ګیره یی هم برابره کړه ځان
یی په دوه ساعته کی دموسی تر قرار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاه ورساوه فورنر یې ډیر تیز وچلاوه
په دروازه کې یې دموسی لاسلیک
ښکاره کړ پریښودل شو ځان یې تر
پټن لاری ورساوه چې څلورمه لاره
وه حکمت په هماغه لاره وروان شو
ددوه کوڅونه وروسته ګوری چې پډی
لاره کې یې هم عسکر ودرولی خو
ډیر نه وو دوه وو که چیرته یې جنګ
ورسره کاوه نو جامې یې خیرنې
کیدلی بیا وربادی خلکو شک کولو او
که دموسی امضا یې هم وربښودله نو
ورته یې ویل چې په دی لاره نو ولې
راغلی حکمت په دوو کې ګیر کړ
داوخت یو کس راغی هغه یو کس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی دډوډی خوړلو وویل حکمت
غوښتل دایو سره څه چل وکړی ځان
ورنه خلاص کړی نو یی تیګه
راواخیسته دایو یی په سر ووهلو سیده
سړی په ځمکه راپریوت حکمت ورنه
دبی سده کیدلو نه مخکی ښنه
وغوښته نور ورنه روان شو ځان یی
په منډه تر پلاره ورساوه حکمت په دی
لاره ځکه راغی چی تر څو دجمشید نه
مخکی او ژر ورسیږی
هغه پو هیده چی جمشید به دحکمت
دپلار بیولو پسی راځی ځکه چی
موسی به ضرور دحکمت دپلار ځای
حکمت ته خوده هماغسی وهم شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت چی ورغی پلار یی نه وو
حکمت سخت غوسی ونیو شاوخوا
عسکرو ته یی وویل چی دفضل کاکا
په نوم بندی چیری دی هغوی ورته
وویل هغه چی هر چا راوستی وو
بیرته بوتلو حکمت بیا سر ته لاسونه
ونیول بیا یی خپله ناکامي حس کړه
خو ماته یی ونه منله پوهیده چی
جمشید به تر لری ځایه نه وي تللی چی
بیرون ووتلو خپل فرونر ته یی ځان په
منډه ورساوه ګوري چی یعقوب سره
دملګرو یی جمشید تړلی او فضل کاکا
ورسره بی هوښه پروت دی سر یی
څړیدلی وو حکمت ورته کښیناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس یی ورته په مخ تیر کړ سترګو نه
سختی دردناکی اوښکی تویی شویی
شوی دا اوښکی دخوشحالی وی
حکمت شاته سیټ کی فرونر دخپل
پلار سر پخپلو زنګونو کیښود سترګو
نه یی اوښکی روانی وی دپلار ټول
یادونه یو یو وریه زړه کیدل حکمت
خپل پلار دپاکستان مشهور هسپتال کی
بستر کړ خپله لاړ تر څو دجمشید
قیصه معلومه کړي.
حکمت دجمشید مخی ته کیناست
دحکمت ملګرو جمشید سخت ویرولی
وو چاقو ګان او سری وینی او غوښی
یی دانسانانو وربنولی وی جمشید

(c) ketabton.com: The Digital Library

دډیری ویری نه دحکمت مخی ته
لړزیده حکمت یی مخی ته ناست وو
او اوسپنیز سپرینږ یی په ګوتو
څرخاوه سر یی ځړولی وو په
.یوغرور ناک انداز ناست وو
حکمت خپلو ملګرو ته وویل چی
دجمشید خوله خلاصه کړی لاسونه یی
هم خلاص کړی او یو ټوپک ورکړی
ټولو په ډیر تعجب دحکمت امر ومانه
ټوپک چی یی جمشید ته ورکړ جمشید
ته یی وویل چی نن تاسره ټوپک دی
ځان وژنی که ما جمشید دټوپک شپیلی
حکمت ته ورواړوله حکمت سګریټ
ولګوه جمشید غوښتل ډز وکړی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې دټوپک ګوتمه کش کړه نو
ټوپک کې ګولې نه وه حکمت ورنه
ټوپک واخیست او ورته ویې ویل:پوه
شوم چې هر څومره ښیګڼې دې راسره
کړې د خه نیت په موخه نه وې او نه
هم دټوبې ویستلو شوق لرې جمشید تر
اوسه دحکمت څخه وهل نه وو
خوړلي نو دې وخت کې خو بیخي ډاډه
شو حکمت وذرنه روان شو خو یو دم
یې مخ ورته راواړوو او جمشید یې په
پښه وویشت دجمشید چغه ډیره لوړه
شوه ټوله کوټه کې یې انګازه وکړه
حکمت ورته وویل لګ درد خو به دې
حس کړې وې کنه جمشید چغې وهلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زګيروی يی کول ورته يی وويل يو سوال درنه کوم که دی سم جواب رانکړ داخل دی په دی سر ولم او بله خبره چی دافکر ونکړی ستا نه بغير زه هيڅ کوم بله لاره نلرم تر څو خپلو دشمنانو ته ورسيږم ماسره زرغون هم شته جمشيد هک حيران شو چی دی ته دزرغون په باره کی چا وويل حکمت ورته وويل ياره حيرانيږه مه زه چی ستا په حقيقت پوهيدای شم دزرغون په حقيقت نشم پوهيدای خو زه پوهيږم تاسی خالی پيسی اخيستی خو چا درکړی صفا ووايه کنه تا به وولم او زرغون نه به ټول معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلم جمشید ورته هر څه وویل چې
ماته پیسې افغانستان کې دعلي شاه او
زرداد په نوم دوو کسانو راکړې راته
ویې ویل چې هر څومره پیسې دي
پکار وي زه یې درلیږم خو ته خالي
حکمت مصروف وساته او فضل بندي
وساته.
حکمت ورته وویل چې وه دخدای
ظالمه ته خو زما تر ټولو خه ملګری
وې تا ولې ماسره داسې وکړل جمشید
ورته وویل چې پیسې خه او بد نه
پیژنې حکمت جمشید هم پریخود
موسې یې هم پریښود جمشید خپل
هوټل ته ولاړ او موسی خپلې قرار ګاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته حکمت چې پوه شو خپلو ځايونو ته
ورسيدل نو يعقوب ته يې وويل:چې
همدغه ددوهم پلان خه وخت دی ددی
دواړو پليتو انسانانو نه دانړی بی غمه
کړه يعقوب دوی دا مهال حکمت سره
دپلارپه قرار ګاه کې وو خو دحکمت
پلار لا په هوش نه وو راغلی هغوی
ورته ډيره زياته نشه ورکړی وه لس
ساعته وروسته هم په سد نه وو راغلی
يعقوب دريموټ بټن کيکاړله دموسی
قرار ګاه اود جمشيد هوټل سره دټولو
سيلانيانو په بل مخ واوړيدل شنی
لوخړی ورنه جګي شوی حکمت
يعقوب ته وويل چې ددوی دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیصه خو می ختمه کړه خو زما وس
هم لا پاکستان کی یو کار شته یعقوب
وپوښتل بل څه کار لری یاره حکمت
ورته وویل زما پلار که په حوش
راغی ورته دازادی زیری ورکړی او
ورته ووایی چی حکمت ډیر ژر راځي
حکمت راغی پیښور ته په هوټلونو
ګرځیده ډیر وګرځیده اخر کی ستړی
شو غوښتل یی دمه وکړي د سیند
غاړی ته راغی یوه زخمی مرغی یی
وکتله راوچته یی کړه ویی کتله یو
وزر یی مات وو مرغی یخنی نیولی
وه حکمت خپل تخرګ کی دننه کړه
روان شو مخ چی یی راواړوه ګوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی شاته یی سپنا ولاړه ده حکمت
دخوښی نه دواو لفظ راووتو سپنا او
حکمت د سیند په غاړه یو څه کیناستل
بیا حکمت ورتا وویل ته پلار کورنی
څه لری کنه سپنا ورته وویل هو لرم
یی داسی څوک به هم وي کی مور او
پلار ونلری حکمت تجربه اخیستی وه
د جمشید نه ځکه هغه هم ورته دروغ
ویلی وو حکمت غوښتل معلوم کړی
چی سپنا خو به جاسوسه نه ویخو سپنا
جاسوسه ونه ختله حکمت دغرور نه
په ډک تندی په فرونر کی یی سپنا تر
قرار ګاه راورسوله حکمت چی تر
موټره راکیوت ګوری چی پلار یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټ کیناست دی او دحکمت ملګری
ورسره ګپ شپ لګوی حکمت په
دواړو ګونډو کیناست سخت یی وژړل
دپلار دوباره ژوند ورته ډیر جرات
ورکړ پلار او حکمت دواړو خه
وژړل ټولو خه ګپ شپ ولګوو
یعقوب حکمت ته غږ کړ چی حکمته
ته راشه حکمت چی ورغی حکمت ته
یی ویل چی وروره خوشحاله یم چی
تاته هر څه دی درورسیدل خو زما
لپاره به زما کار ونکړی حکمت ورته
په ولی لاس کینود او ورسره ژمنه یی
وکړه چی ژمنه ده ستا کار به هم
ضرور وکړم دا وخت سپنا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت ته یی وویل:حکمته تا کوم
وخت کی دموسی په قرار ګاه
اودجمشید په هوټل کی بمونه ځای پر
ځای کړی ول حکمت ورته وویل :هر
کله چی موږ جمشید خوشی کولو هغی
نه مخکی اول زه ولاړم او اول
دجمشید هوټل ته می پوره پنځه لس
بمونه ننه باسل چی یعقوب له قرار ګاه
نه راوباسلی وو ټول مانه ویریدل ما نه
یی تلاشی ملاشی وانه خیسته ټول
بمونه می هلته هم ځانته برابر کړل بیا
لاړم دموسی قرار ګاه کی می پوره
لس بمه د موسی په امضا ځای پرځای
کړل او ټول والوتل ټولو شاته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت دپلار په ګېون دی قیصی ته
غوږ نیولی وو حکمت ته یی چکچکی
ووهلی حکمت دټولو نه خدای پامانی
واخیسته یعقوب ورته د غره نه هاخوا
یو موټر برابر کړ تر ځو پلار او
حکمت یی تر خپل کلی ورسوی
حکمت یوځل بیا دسپین غر په سخته
لاره روان شو افغانستان ته زخمی
مرغی هم روغه شوی وه هغه یی هم
غوښتل ځان سره تر افغانستانه
ورسوی هر کله چی حکمت مرغی د
سپین اخري ځای ته یی ورسوله
مرغی پخپله په حرکت راغله او پر
والوتله حکمت خپل کور ته لاړ دخپلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور سره یی وکتل خپل ترونه چی یی
وکتل ترونو چی فضل وکوت نو
حیران شول حکمت ورته وویل
حیرانیږی مه زه پو هیږم پلار می تاسو
وړی وو او بندی کړی وو ډیری
پیسی مو يي په سر ورکړی وی
ددواړو ترونو رنګونه یی ژیړ شول بیا
یی ورته وویل زما ټول مصرف مو په
پاکستات کی دجمشید په هوټل کی په
غاړه اخیستی وو مور مو راته دلته
ساتله او پلار مو موسی سره راته
ساتلو دا دومره پیسی مو له کومه کړی
دواړه ترونه یی غلی وو دحکمت
وریندار چاقو باندی رومیان میده کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت ورنه چاقو واخیست دزرداد په
غاړه یی کیښود لومړی یی ورته وویل
چی زه دقتلونو سره وس اموخته شوی
یم تا هم وژلی شم کاکا خو دا راته
ووایه چی پیسی چا درکړی وی
دحکمت مور له حکمت څخه چاقو
واخیست حکمت یی دوه کلکی کلکی
سپیړی کش کړ ورته ویی ویل چی
دومره وخت نه وروسته می په کور
خوشحالی راغلی دا راباندی وس ولی
غم کوی دوی ته دی خدای سزا
ورکړی دواړو ترونو یی پخپله ګناه
ومنله ښنه یی وغوښته حکمت دواړه
معاف کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حکمت ورخخه راغللو خار ته او خپل ژوند یی په خار کی تیر کړ پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

داقیصه ریښتونی ده ما د خپل ماما
دورکیدو په یاد کی لیکلی ده ستاسی
ټولو څخه هیله لرم چی خوخه شوی
مو وي او خوند مو ورنه اخیستی وی
که غواړی چی بله برخه یی هم ولیک
👇👇👇👇👇👇

👇👇👇👇👇👇👇👇👇

دوهم ټوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت پوره لس ورځې کلی کېّ
دخپل مور اوپلار سره تیری کړی.
کاکاګانو سره یې هم عادی حالت غوره
کړ.
ددومره وخت نه وروسته راغی جلال
اباد ښار ته غوښتل یې تر څو دسپنا
سره واده وکړي خو هغی ته یې په
سپین غر کی یو کور جوړ کړی وو
چی تر څو ددوی دکور مثلی حل شی
نو بیا به سپنا هم خپل کور ته راولی او
واده به ورسره وکړي.
ډوډۍ او دخوراک نور ټول سامان به
دیعقوب کسانو وروړل سپنا که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظار یی نشو کولای ځکه چی داسی
یوه ښځه چی ټول عمر په هوټلونو
ګرځیدلی وي هغه بیا چیرته دومره
انتظار کولای شي
دحکمت لپاره یی په ځان دومره سخته
تیروله.
حکمت په ښار کی خپل ژوند روان کړ
کور یی هم ونیو او پلار ته یی کسب
برابر کړ خو خپله یی دبل څه اراده
لرله.
پلار ته یی یو دوکان جوړ کړ تر څو
پلار یی پکی سوپ خرڅ کړي .
حکمت پاکستان کی دجمشید په هوټل
یعنی بیسټ ویسټران کی دسوپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجوړلو عالی طریقه زده کړی وه.
اوخوندور سوپ یو څو ورځی پوخ کړ
پخپله یی اول کی خرڅاوه خو بیا
وروسته یی خپل پلار ته پریخود څکه
چی په لږ وخت کی یی ډیر شهرت پیدا
کړ.
او حکمت هم نور نه غوښتل چی دلته
پاتی شي پخپله یی تکل وکړ چی لاړ
شي سپنا پسی سپین غر ته تر څو هغه
هم راولی ښار ته خو دا دومره اسانه
نه وه ولی چی اخر پښتو ده مور پلار
به یی څه ورته وایی ایا ورسره به یی
ومني او کنه خو بیا به یی هم دموبایل
له لاری دسپنا سره اړیکه نیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسپنا تول حال یی اخیست فکر یی
کاوه چی تول مشکلات ده خپله حل
کړي نو دا خو لا وړه خبره ده روان
شو غوبنتل یی سپین غر ته ولاړ سی
جلال اباد بنار کی تلاشی چوک ته
څیرمه د میرانو کلی ته تلونکی یو
موټر ته غوبنتل یی تر څو ورپورته
سی .داوخت ورته ادریس دشا لخوا نه
غږ وکړ ادریس دحکمت دکلي
دوختونو نه ملګری وو ادریس دوی
هم چی دکلی دتکلیفونو نه نور په تنګ
شوی وو دوی هم بنار ته کډه راوړی
وه ادریس له حکمت سره یو څه
کبنینات بنډار یی ورسره وکړ بیا یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنه پوښتنه وکړه
چې یاره چیرته روان یې حکمت ورته
وویل چې ولا وروره یو جینی وه
پاکستان کې مې خوخه شوی وه ماته
جمشید ویلی وو چې دی جینی پسی
دلته زورور خلک ګرځی او ما ورته
ویلی وو چې زه هم دزور پسی ګرځم
او خدای که زور راکړ نو دپلار دغچ
نه وروسته به همدغه انجلۍ خپلوم
دپلار دشمنان می پیدا کړل خو خپله
وینه می وختله ځکه می ورته څه ونه
ویل او وس نو غواړم سپنا هم خپله
کړم بس زړه می داوایی چې دادومره
مشکلات چې می پخپله حل کړل داهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل کولای شم ادریس ورته په خوله
لاس کیښود ورته ویی ویل پام کوه
دامشکلات تا ندی حل کړی ما او تا څه
انسانان یو کمزوری وجود حکمت
ورته وویل چی یاره داخو منم چی هر
څه الله تعالی کوی خو کمزوری به
انشالله دومره نه یو
ادریس ورته وویل:فکر وکه که چیرته
ته دټول جهان پادشاه شی خو په یوه
دښته کی بند پاتی شوی او سخت تږی
یی اویو کس سره اوبه دی تاته وایی
چی ټوله بادشاهی دی ما پسی ولیکه
زه به درته اوبه درکړم ته به یی
ورپسی ولیکی کنه حکمت وویل هو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. لیکم یی
نو ادریس وویل :چی ته یو ګیلاس اوبه
څانته دښته کی نشی پیداکولای نو ته
بیا څنګه څانته زورور وایی دحکمت
سر په دی کیسه پوره خلاص شو ولاړ
جومات ته دوه رکعته نفل لمونځ یی
وکړ بیا یی توبه وویستله دخپلی غلطۍ
. احساس ورته وشو
بیرته راغی خپل کور ته خپل مور ته
یی دسپنا په باره کی ټوله خبره وکړه
پلار یی هم قیصه واوریده مور یی
ورنه په دی خبره سخته خفه شوه چی
حکمت څان لپاره خالی دهوټلونو
استعمال شوی جینی خوخه کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور یی ورته وویل چی دی جینی نه
تیر شه دبادشا لور وغواړه درته
غواړم یی خو حکمت خپله ضد نیولی
وو خو دیو ځه تینګار وروسته یی خپل
مور او پلار رازی کړل مور او پلار
یی هم غوښتل چی خپله انګور ووینی
نو حکمت سم دلاسه ادریس ته زنګ
ووهلو چی موټر راولی ادریس دوی
نوی نوی موټر رانیولی وو ادریس
موټر راوستو حکمت چی په پیخور
کی یی موټر یاد کړی هم وو خو بیا
یی هم ادریس ته یی وویل چی ته ورته
کینه.
حکمت دوی یی سره دمور او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسپین غر تر لمنی راورسول په لاره
کی حکمت خپل کلی هم ولیده خو
ورتاو نشو ځکه چی هر کله به دی
کلی ته ورننوت خپل د سختئ وختونه
به وریاد شول.
هغی نه غوښتل چی نور خپل سخت
وختونه رایاد کړي.
حکمت یو ځل بیا دسپین غر په لارو
مخ په پورته روان شو خو دا ځلی
ورسره سپین ږیری پلار او سپین
سری مور هم وه.
حکمت تر سپین غر یوځل بیا واوړیدو
خو داځلی ورته دی تګ هیڅ خوند
ورنکړ ځان یی دیعقوب قرار ګاه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورساوه مور او پلار یې قرار ګاه کې
کینول قرار ګاه کې یې ډیر درناوی
وشو خو دی وخت کې قرار ګاه
دافغانستان خواته رانږدی شوی وه تر
څو جنګ له نږدی وڅاری بلکې
افغانستان کې وه مور او پلار یې قرار
ګاه کې پریښودل خپله ولاړ سپنا پسی
سپنا یې راروانه کړه هر کله چې قرار
ګاه ته نږدی شو شنی لوخړی له قرار
ګاه نه پورته شولی بې پیلوټه الوتکو په
قرار ګاه برید وکړ دحکمت دقرار ګاه
ټول ملګری هواکې لوغړن لوغړن
پورته شول حکمت چې قرار ګاه کې
یې دبې پیلوټه الوتکو څخه دځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژغورنی سختی طریقی زده کړی وی
نو سپنا ته یی وویل چی مزه چیرته
سپنا چی وکتل ګوری بی پیلوټه تیاره
ددوی خواته راروانی دی نو یی
دویری شاته منډه کړه حکمت ورپسی
ډیر غږونه وکړل خو اجل چی راشی
بیا دیته نه ګوری حکمت ورته کتل
چی سپنا باندی یوبم دبی پیلوټه لخوانه
راغی حکمت دتیږی شاته ځان پټ کړ
او سپنا یی په مخکی لکه د بال پشان
هواته پورته شوه او د سپنا دردوونکی
چغی سره یی خپله بی وسی حس کړه
ژړا ورغله دسخت درد نه یی دبی
وسۍ ترخی اوښکی تویی کړی بی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوټه حکمت ونه کوت نو ځکه
ولاړی خو پدی تش میدان کی خالی
حکمت ژوندی پاتی شو حکمت چی
وکتل ګوری چی دافغانستان کوماندو
قرار ګاه ته ننوزی نو خپله تومانچه
یی راوخیسته غوښتل یی چی یو هم
ورنه ژوندی پاتی نشی سخت دغوسی
اخری حالت کی وو داوخت یعقوب تر
لاسه ونیو یعقوب په ولی سخت ټپی
شوی وو حکمت یی په زوره له هغه
ځایه راوباسلو حکمت غوښتل چی کم
از کم دخپل پلار مړي خو خپله ښخ
کړی خو یعقوب ورته وویل چی وس
نه کیږی خدای به خیر کړی رازه چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو حکمت دسپنا یو هډوکی له ځان
سره وچت کړ موچی یی کړ او روان
شو پیښور ته.
داچی پیخور کی یی څوک پیژند ګلو
هم نه وو خو بیا هم دیو څه مزل
وروسته یو موټر په دړادړ کی تیریده
حکمت ورته لاس ونیو موټروان چی
یی وکوت حق حیران شو سترګی یی
کړیغی راووتی.
په موټر کی ناست زلمی جمشید دی
حکمت بیخی حیران شو خو داچی
دامهال یی جمشید ته سخته اړتیا وه نو
ورسره کښیناست هیڅ یی هم ورته ونه
ویل حکمت په لاره درد بی هوښه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعا چی سخته ده پلار او مور درنه
بیل ولاړ شی یو ملګری دی هم ژوندی
پاتی نشي او مینه دی هم ستا په مخکی
بی پیلوټه په هوا کړی حکمت د درد
دلاسه بی هوښه شوی وو یو وخت کی
چی راپاسید ګوری یو وی ای پی
هسپتال کی پروت دی په سنګ کی یی
یعقوب پروت وو جمشید په ناسته ویده
وو سهار وو دروغتون نه بهر دچڼچڼو
چڼهار اوریدل کیده دلمر یوه وړه
وړانګه دحکمت په مخ لګیده چی
حکمت یی ارام ته نه پریخود حکمت
له خپلی بستری پاسید سیرم او کنول
یی لری کړل دکړکی خواته ورغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تازه هوا وه داشداری پرده یی لری
کړه یو څو اوږدی ساګانی یی
واخیستی بیرته راغی خپل کټ خواته
اول یی جمشید ته وکتل ځان سره یی
وویل چی دا نو څنګه اول کی یی
غولولم داسی یی کول وس به نو څه
مطلب یی وی خو نه وس هیڅوک
مطلب نلری ولی چی زه څوک نلرم
داوخت یوه نرسه راغله حکمت ته یی
ددوایی دخوړلو سپاربښتنه وکړه نرسی
شربت راواخیست سر یی تری لری
کړ او دبوتل په سر کی یی حکمت ته
شربت واچوه حکمت په ډیر خوند سره
دشربت ګوټ تیر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څه ارام شوی وو ذهنی ستړیا یی
هم ختمه شوی وه داوخت یعقوب هم
په سد راغی جمشید لا هماغسی ویده
دوی دواړه بیرون ووتل غوښتل چی
دخوراک لپاره څه پیدا کړی
دروغتون نه په یو څه واټن کی یو
مشهور هوټل دی هوټل ته به صرف
بهرنی سیلانیان راتلل او دلته به پاتی
کیدل نور هیچاته هم اجازه نه وه
حکمت او یعقوب شاوخوا ډیر وګتل بل
هوټل یی پیدا نکړ زړه نازړه همدی
هوټل ته ور ننوتل هوټل کی ریشتیا هم
هر رقم خکلی انجونی ګرځیدلی
دادجمشید دهوټل په خیر نه وو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت چی ورننوت شاوخوا یی
ګروپونو ته کتل رقم رقم ګروپونه پکی
لګیدلی وو کاشی یی داسی جوړه وه
لکه په سمندر کی چی روان یی داسی
رنګ یی وو او داسی ځای وو چی
پښی به دی خیرنی هم وی بس چی به
ورننوتلی پښی به دی هم پاکیدلی ولی
چی هر وخت به یی صفایی کارانو
صفا کاوه هر رقم ګیلاسونه شراب او
بنګاوی اپیم تروه کبان ورسره نارنج
رقم رقم جامونه دسیلانیانو په لاس کی
وو سیلانیان ټول دخپلو معشوقو سره
ناست ول او هر یو ته خدای په
پاکستان کی جنت برابر کړی وو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت چی داحالت ولید هغه حدیث
وریاد شو چی دادنیا دکافر لپاره جنت
اودمسلمان لپاره دوزخ دی.
حکمت ولاړ دهوټل مشرانو ته غوښتل
یی ورځخه یو څه په پور واخلی خو
هغوی چی ددوی حالت ولید حکمت
دوی ورته لیونیان ښکاره شول خپلو
ساتونکو ته یی امر وکړ چی له هوټله
یی وباسی یو ساتونکی حکمت ته
لاس واچو حکمت ورته وویل په
ارامۍ مو پریږدئ ځو او که په زور
شوه والاهی که می ستاسی هغه دادا
هم له دی زایه وباسی یو تن عسکر
حکمت ته کلکه سپیږه ورکړه نور نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت ځان قابو نشوی کړای په هوټل
کی ونښتل حکمت به هر یوه ته لاس
اچوه هغوی پری ډیر وو دا ځل یی بیا
دقسمت مور مړه وه خه وهل یی
وخوړل خو دوی هم پکی یودوه تنه
خه برابر کړل
داوخت دمهلی پولیس راغلل حکمت
دوی یی ولچک کړل دهوټل ساتونکو
په لوړ اواز ووبل چی هوټل ته ملنګ
صاحب چی ددی لوی هوټل مشر دی
تشریف راوړی ټول خلک حیران
شول چی تر اوسه چا ملنګ صاحب
لیدلی لا ندی او بل ملنګ صاحب هر
هیواد کی بیل بیل کاروبارونه لری نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نن دلته دیو جنګ په سر ولی
رازی ملنګ صاحب دننه راغی
حکمت دوی چی وکتل هک حیران
پاتی شول حکمت یعقوب ته وکتل
ورته یی ویل چی دانو سنګه کیدای
شی
ملنګ صاحب دحکمت ملګری جمشید
وو دا دومره غټ هوټل ټول دجمشید
وو .
جمشید دپولیسو نه حکمت او یعقوب
خلاص کړل حکمت او یعقوب دوی
یی ځان سره دهوټل دفتر ته چی اخری
منزل کی وبوتلل
شپاړلس منزله هوټل وو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم کی یی دجمشید دفتر وو حکمت چی لګ څه ارامی یی حس کړی وه بیا نا ارامه شو.

جمشید ورځینی وپوښتل چی څه اړتیا وه تاسی له ساتونکو سره مو جنګ کاوه او چی له روغتون نه راوتلی نو زه خو به مو راپاسولی وم کنه دا که تاسی وس پولیسو ولا بوتللی وای ما به بیا چیرته لټولای حکمت ورته صفا صفا وویل:ګوره جمشیده ستا دکلیمی نه بغیر زه په هیڅ هم باور نلرم ته داځلی هڅه مکوه چی زما باور لاسته راوړی هغه یو وخت وو جمشید ورته وویل چی زه ستا باور لاسته نه راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې لاسته راوړی مې دی ځکه چې
مادرته تر اوسه ندی ویلی چې پر ما
باور وکړه او ته خپله راته داخبره
کوی دواړه سره کښیناستل یو کوک او
تروه کبان یې راوغوښتل دری واړو
خه په مزه مزه کبان خوړل حکمت
دجمشید نه دخوراک منځ کې پوښتنه
وکړه چې خا ته دا راته ووایه څنګه بچ
شوی او بیا درته زما ادرس له کومه
شو او دا ځل غواړی راسره کوم ګیم
وکړی جمشید ورته وویل:کبان خوره
دا اوږدی قیصی دی وخت نیسی هر
کله چې خوراک ختم شو نو جمشید ډی
جی سیستم جوړ کړ مو زیک یې پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولګاوه حکمت غوږونه بند کړل
یعقوب هم بیرون ووت جمشید هم
ورسره راووت ټول راغلل په هوټل
کی دحوض تر څنګ کښیناستل جمشید
حممت ته وویل:یاره هغه ورځ باندی
زما دمرګ سل فیصده چانس وو خو تا
چی زه داسی ناساپي خوشی کړم زه
ستا په نیت پوه شوم زه دومره ساده نه
وم لکه څومره ساده چی دی مینتلی وم
زه په هر څه پوهیدم حتی تر دی ما
پوره دری کاله نظامی ځانګه کی کار
کړی دی زه چی تا پریښودم زه مستقیم
لاړم ماما کره هلته می پوره یوه اونی
تیره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیو عادی انسان په رقم به می هلته
ژوند کاوه دهفتی په دوهمه ورځ خبر
سوم چی بیسټ ویسټران دنامعلومو
وسلوالو لخوا والوزول شو او هم
دموسی قرار ګاه هو که چیری ته
دپاکستان حکومت ته ووایی چی
دموسی قرار ګاه ما ختمه کړه او
موسی هم ما وواژه نو هغوی تاته لوی
انعام لری.
خو که دبیسټ ویسټران نه خبر شول
بیا نو زندان دی مبارک شه دبیسټ
ویسټران په حقیقت پوازی یو زه خبر
یم یو ته او یو یعقوب نو باید خولی
بندی کړو او دغه انعام پر یوځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

. واخلو
حکمت ورته وویل داسی انعام زما
پکار ندی زه هیڅوک نلرم باید چی زه
دخپلوانو غچ واخلم.
دمور دپلار دسپین غر زخمي مرغۍ
یو ځل بیا روغه شوی او دا ددی لپاره
چی دظالمانو ځای تنور وګرځوي.
حکمت او یعقوب له پیښور څخه روان
شول تر څو لاړ شی او وزیرستان کی
خپل حال خپلو مشرانو ته بیان کړي
خو جمشید ورته وویل :داهر څه ما
ستاسی له کبله پیدا کړی اصلا هر کله
چی بیسټ ویسټران وران شو ټولنیزو
رسنیو زما هوټل زیات مشهور کړ ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل دهوټل کاریګر هم دیوی هفتی لپاره رخصت کړي وو ماسره دبهرنیو هیوادونو نه دومره مرستی وشوی که چیرته یی زه ټول عمر هم وخورم نو کم به وي او دا هوټل هم دهمغی ثمره ده.
حکمت ته سخته غوصه ورغله پوه شو چی جمشید خپله سزا نده لیدلی حکمت جیب نه چاقو راوویست خو یعقوب ونیو هغی ته یی په لوړ اواز وویل چی جمشید وس زموږ ملګری دی که نه وای بیا به یی دومره خه راسره نه کول.
حکمت ورسره ومنله حکمت دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوخت یو موټر پکار وو تیار دجمشید
موټر ولاړ وو خپله یی چلولو ته
کښیناست یعقوب او حکمت ځان تر
وزیرستانه ورساوه هلته یی خپلو
مشرانو ته ټول جریان تیر کړ که څه
هم ډیجیټل موبایلونو زمانه وه خو
ددوی سره خبری چا په موبایل نشوی
کولای ځکه چی شبکو والا بیا کشف
کولای شول نو ځکه به هر کس
. دجریان تیرولو لپاره دوی ته راتلل
حکمت دوی ته پوره پنځه ویشت نور
کسان وروسپارل شول تر څو سپین
غر پوسته جوړه او ویی ساتی او ټولو
مشرانو به ویل چی هری پوستی ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

انشاالله پوره دوه سوه دری سوه
مجاهدین ورلیګو تر ځونور ددی هر
څه لمنه راټوله کړو پخیر حکمت دوی
ته په یوه هفته کی دوه سوه سرتیری
راورسیدل یو ورسره طبیب هم وو
امر شوی وو چی په ننګرهار به
ورځی دا وخت قندهار هم سقوت کړی
وو او هرات هم کندز هم په جمعه کی
دمجاهدینو لخوا پوره اووه ولایته
سقوت شول حکمت دوی ته ټول بریپ
رسیدلی وو حکمت دانتقام سخته لمبی
اخیستی وو خپلو مشرانو ته یی وویل
چی تر څو دجنګ ساحی ته ولیګی
داوخت غزنی کی سخت جنګ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمت یی غزنی ته ولیږو غزنی کی
حکمت نو دټولو مشر وو سخت جنګ
وشو خو اخر هم بری دطالبانو
مجاهدینو په برخه شوه حکمت دوی
دغزنی زندان شاتنی برخی ته اور
ورکړ او ټول زندانیان یی ازاد کړ
حکمت غوښتل دخوشحالۍ نه والوزی
ولی چی داځل یی ځان ډیر قوی لید او
فکر یی کاوه چی دمور او پلار غچ یی
اخیستی دی یو څه امریکایان یی په
غزنی کی نیولی وو حکمت هغوی
سخت ووهل حتی تر دی چی حکمت
ځان په ډیرو وهلو ستړی کړ .
ریشتیا چی هم دپښتنو او افغانانو انتقام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر سخت وي .
حکمت غزنی خپل ملګرو ته پریخود
راغی لوګر ته دلوګر والی ورته پخپله
تسلیمی ورکړه.
لوګر هم سقوت شو.
حکمت لوګر نه راغی لغمان ته لغمان
کی نو بیا بیل جنګ شروع وو
دمجاهدینو جذبه دمرګ په لوری دهر
مجاهد ورتګ او بیا دبی پیلوټه سره
جنګیدل خو دلته دحکمت په مشری
کی ډیر ملګری یی وژل شول خو بیا
هم بریا دمسلمانانو وه.
دا وخت حکمت دوی ته خبر راغی
چی کنړ هم سقوت شو خالی بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار او کابل پاتی وو دشپی تول
ننګرهاری ښاریان بیده سول تولو ته
یی امنیتی ځواکونو خه ډاډ ورکړ والی
صاحب هم ورته وویل چی هیڅ
مشکل نشته .دسهار وختی خړه وه چی
مشرانو حکمت دوی ته زنګ وو هلو
چی ځان دی راورسوی ننګرهار ته
چی هر څه درته په رضا تسلیم کړی
دننګرهار ښاریانو به دمجاهدینو
موټرو ته عجیب عجیب کتل ته به وای
چی هغوی وس پوه شوی وی چی
دوی خو هم زموږ پشان انسانان ول.
حکمت د سراچی موټر پر سر دخپلو
ملګرو سره ناست وو اودا ناره یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهله.
. نصر من الله وفتح قريب
هری خواته یی په خوشحالۍ باندی
کتل داسی ورته ښکاریده لکه دپلار
روح چی یی ارام شوی وي.

پای
که هر څه مشکل یا غلطی وی تاسی
ټول ببښنه کوی.
هغه ورونه چی اسلامی امارات سره
وی او دا ناول یی لوستی خپلی
څرګندونی مو راسره په لاندی نمبر
شریکی کړی مننه
0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**